د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

Islamic Republic of Afghanistan
Access to Information Commission

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د مشرتابه هیئت غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹کال د وږي ۲۲مه |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | ښاغلی عین‌الدین بهادري د کمېسیون کمیشنر او رییس |
| گډونوال | د کمېسیون مرستیاله آغلې نجیبه مرام ، کمېشنر او منشي ښاغلی حمدالله ارباب، کمېشنره آغلې زهرا موسوي، د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت‌الله حیدري. |
| دغونډې تنظیمونکی | آغلې فایزه رضایي |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اونیزه غونډه نن د ۱۳۹۹کال د وږي په ۲۲مه د پورته ذکر شویو مشرانو په شتون ترسره شوه او په لاندې موضوعاتو د اندونو تبادله وشوه:

1. **د دارالانشا رییس ښاغلي عصمت الله حیدري لخوا د کمېسیون اوونیز راپور وړاندې کول.**
2. **د کمېسیون د غړو د دندو بیا کتل:** د کمېسیون د مشرتابه غونډه کې پرېکړې ته په کتو د کمېسیون غړي به د مخکېني وېش ته په کتو لاندې دندې پر مخ وړي؛ د شکایت څېړلو څانگه به اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون رییس ښاغلی عین الدین بهادري، د عامه پوهاوي څانگه د کمېسیون کمېشنر او منشي ښاغلی حمدالله ارباب، د څارنې او ارزونې څانگې به کمېسیون غړې آغلې زهرا موسوي تعقیبوي.
3. **ستره محکمه:** د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې سترې محکمې ته دې مکتوب واستول شي چې خپل د اطلاع رسونې مسوول تعویض کړي.
4. **د غوښتنو د تایید او رد لپاره نورم:** دا مسله به شکایتونو ته د رسېدنې کړنلارې په رڼا کې تر بحث لاندې نیول کېږي.
5. **د قاسمي د لب ټاپ قضیه:** په غونډه کې پرېکړه وشوه چې ښاغلي شېرعلي قاسمي ته دې یو پل فرصت هم ورکړل شي تر څو دفتر ته راشي او خپل حساب پاک کړي. د قانوني اجراتو لپاره به سکالو رسما لوې څارنوالۍ ته واستول شي.
6. **د ډاکټر محمد هاشم د لب ټاپ قضیه:** په دې هکله پرېکړه وشوه چې هغه ته د یو برېښنالیک واستول شي او له هغه د وغوښتل شي خپل کاري راپور ډېر ژر برابر او د نورو اجراتو لپاره کمېسیون ته مراجعه وکړي. پرته له دې د کمپیوټر قیمت د نومړي له معاش څخه کم او د کمېسیون حساب ته به زیات شي چې بیا به د شکایت حق و نه لري.
7. **اطلاعاتو ته د لاسرسي نړيوالې ورځې لمانځل:** د دارالانشا ریاست د هېوادوالو حقوقي پوهاوي کچې لوړولو په پار، اطلاعاتو ته د لاسرسي حق نړیواله ورځ لمانځلو لپاره، په مختلفو څانگو کې مختلفو پلانونه برابر او اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون مشرتابه ته به یې وړاندې کړي. په یاد پلان کې به د عامه پوهاوي کمپاین، یوه اونۍ مخکې له ۲۸ د سپټمبر او یوه او یوه اونۍ وروسته وي. د تندیس او ستاینلیک په هکله چې څوک یې وړ دي یو لنډ لیست جوړ شو او په دې اړه نورې خبرې اترې هم وشوې.

8. **په بېله کوټه کې د شکایت ارزولو میکانیزم:** د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې غوښتونکي ته یوه بېله کوټه د مېز، څوکۍ او نورو اړینو وسایلو په پام کې نیولو سره برابره شي.
9. **د سکرتر گمارنه:** په غونډه کې پرېکړه وشوه چې هر کمېشنر سکرتر ته اړیتا لري، نو په همدې اساس هر یوه ته دې یو بالمقطع سکرتر وگمارل شي. د دارالانشا ریاست ژمنه وکړه چې ډېر ژر به یې د دندو لایحه ترتیب او اعلان به یې کړي.
10. **د کمېسیون مصوباتو په کتاب کې د مصوباتو درج:** خرنگه چې د کمېسیون مصوبې وړاندې په الکترونکي ډول ترتیب، تایید او خپرېدلې، له وروسته د غونډې مصوبات به د مصوباتو اوونیز کتاب کې د کمېسیون د غړو لاسلیک څخه وروسته ځای پر ځای کېږي.

درنښت

د کمېسیون رییس عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله نجیبه مرام

د کمېسیون منشي حمدالله ارباب

د کمېسیون کمېشنره زهرا موسوي